
مسیر
ورځپاڼه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
سه شنبه د ۱۳۹۹ د کب ۲۶مه | د ۲۰۲۱ د مارچ ۱۶مه | ۶۹۷یمه ګڼه

## څېره

۴ مخ

### شیموس هیني



هېني په ټوله کې انساني ژوند، د میندو او پلرونو تېر او راتلونکې او د ماشومانو، مېرمنو او خاوندانو پر ژوند او راتلونکې خبرې کړې دي، چې له همدې امله یې د نوبل جایزه هم ګټلې.

# په مسکو کې د سولې کنفرانس؛

## د امریکا او افغان حکومت په شمول ټول بلل شوي اړخونه په دې ناسته کې ګډون کوي



### مسکو او ترکیه؛ د سولې فرصتونه چې باید ضایع نه شي

۲ مخ

### د سوریې لس کلنه کورنۍ جګړه څنګه پیل شوه؟

۲ مخ

### نیالګي کېنوئ

۳ مخ

## جاپان له افغانستان سره په روغتیایي برخه کې نږدې دوه میلیونه ډالره مرسته کړې



جاپان له افغانستان سره د ساري ناروغیو پر وړاندې د مبارزې د پیاوړتیا په برخه کې یو اعشاریه اته میلیونه امریکایي ډالره مرسته کړې ده.

د هغې خبرپاڼې له مخې، چې په کابل کې د جاپان سفارت له خوا رسنیو ته لېږل شوې، چې دغه مرستې به د ناروغیو د تشخیص، څارنې او د کلینیکونو د خدمتونو له پیاوړې کېدو سره مرسته وکړي، چې په پایله کې به یې د مخنیوي وړ مړینې چې له ساري او د را څرګندېدونکو انتاني ناروغیو سره تړاو لري، کمې شي.

د خبرپاڼې له مخې، جاپان پر روغتیا سربېره له افغانستان سره د بیا رغونې په نورو برخو کې له ۲۰۰۱ ز کال راهیسې د شاوخوا شپږ میلیارده او ۹۰۰ میلیونه ډالرو مرسته کړې ده. جاپان دغه راز ژمنه کړې چې له افغانستان سره به په راتلونکې کې هم خپلو هر اړخیزو مرستو ته دوام ورکړي.


## لویدیځ رسنۍ: ښایي په افغانستان کې د امریکایي ځواکونو حضور تمدید شي

یو شمېر لویدیځو رسنیو راپورونه ورکړي، چې ګوندې امریکا هڅه کوي په افغانستان کې د خپلې اوږدې جګړې د پای ته رسولو لپاره له طالبانو سره یوې موقتې هوکړې ته ورسېږي. په همدې حال کې لورا میلر چې د بارک اوباما او ډونالډ ټرمپ په دوره کې یې د افغانستان په چارو کې د یوې لوړپوړې دولتي چارواکې په توګه دنده ترسره کړې، وایي چې ښایي په افغانستان کې د امریکایي ځواکونو حضور تمدید شي. د نوموړې په خبره، امریکا اوس دې نتیجې ته رسېدلې، چې که له افغانستان څخه خپل سرتېري وباسي او ناټو په دغه هېواد کې د ګواښونو د دفع کولو لپاره یوازې پرېږدي، نو ستونزې ډېرېږي.

د نوموړې په خبره، که امریکایي ځواکونه له افغانستان څخه ووځي، نو طالبان به د زور له لارې واک ته د رسېدو هڅه وکړي، له همدې کبله تر هغې پورې چې افغان لوري یوې هوکړې ته رسېږي، له دغه هېواد څخه د امریکایي ځواکونو وتل ممکن نه دي. هغې ټینګار کړی، چې د بایډن اداره به د خپلو سرتېرو د حضور په غځولو سره پر طالبانو فشار راوړي، څو هر څه ژر له افغان دولت سره یوې هوکړې ته ورسېږي.

د یادونې ده چې تر دې وړاندې د امریکا د دفاع وزیر لوید اسټین هم ویلي وو، چې امریکا به له افغانستان څخه د خپلو سرتېرو په ایستلو کې بېړه ونه کړي.

## که امریکایي ځواکونه له افغانستانه ووځي، ګډوډۍ به زیاتې او جګړه به شدیده شي



۲ مخ

## انفجار بر موتر حامل کارمندان وزارت مخابرات در کابل ۱۵ زخمی برجای گذاشت



وزارت مخابرات و تکنالوژی معلوماتی تأیید کرده است که یک موتر نوع کاستر حامل کارمندان این وزارت عصر روز دوشنبه، در منطقه دهن‌باغ از مربوطات ناحیه دوم شهر کابل هدف انفجار ماین قرار گرفته است.

در عین حال پولیس کابل نیز می‌گوید که یک انفجار پس از چاشت دیروز بر یک موتر کاستر در شهر کابل رخ داده‌است که در نتیجه ۱۵ غیرنظامی، زخم برداشته‌اند.


در یک خبرنامهٔ پولیس کابل آمده‌است که این رویداد حوالی ۰۳:۵۰ دقیقه در منطقهٔ دهن باغ در مربوطات حوزهٔ دوم شهر کابل هنگامی رخ داد که یک موتر کاستر هدف انفجار ماین قرار گرفت.

خبرنامه می‌افزاید که زخمیان این رویداد برای درمان به شفاخانه انتقال یافته‌اند. در خبرنامه دربارهٔ این رویداد، جزئیات بیشتر ارایه نشده‌است.

تاکنون هیچ گروهی به شمول طالبان مسؤولیت این انفجار را به عهده نگرفته‌است. دو روز پیش نیز در دو انفجار در شهر کابل، پنج تن جان باختند و ۱۶ تن دیگر، زخم برداشته‌اند. در این انفجارها که دو موتر مسافربری تونس در حوزه‌های سوم و ششم امنیتی آماج قرار گرفتند؛ تمامی قربانیان آنها غیرنظامیان و از شهروندان نادار کشور اند.

در رویداد نخست، یک موتر تونس مسافربری در پل سوخته از مربوطات حوزه ششم امنیتی و در رویداد دومی هم در ساحه سرکاریز حوزه سوم یک موتر دیگر تونس، آماج انفجار گرفت.

Aksos
اکسوس کتابپلورنځی
Aksos Book Store
Add a Book to Your Life



دهبوري پارک جنوبي دروازې ته مخامخ
0798-98-9696, 0202504652
aksosbookstore@gmail.com
www.aksosbookstore.af
Aksos Book Store
Aksos Book Store

## سرلیکنه

### مسکو او ترکیه؛ د سولې فرصتونه چې باید ضایع نه شي

د افغان سولې لپاره د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ځانګړی استازی کابل ته راغلی و او دلته یې له افغان مشرانو سره د سولې پر وروستیو پرمختګونو او راتلونکو اقداماتو خبرې کړې دي. نوموړي له ولسمشر غني او دغه راز د ملي مصالحې عالي شورا له رییس ډاکټر عبدالله عبدالله سره کتلي دي.
د ملي مصالحې عالي شورا وایي، چې له خلیلزاد سره په لیدنه کې د مسکو او ترکیې پر کنفرانسونو هم خبرې شوې او دغه راز ټینګار شوی چې د سولې هڅې باید لا ډېرې چټکې شي. تر څنګ یې د جګړو پر کمولو او اوربند پر تامین هم خبرې شوې دي.
سره له دې چې په دې وروستیو کې امریکا د سولې په برخه کې په اقداماتو کې جدي ښکاري او ټول په دې باور دي چې ښایي امریکا دا ځل له افغان جګړې په رښتیني توګه ستړې شوې وي او خپله پښه له دې جنجال وباسي. له همدې امله یې د سولې په بهیر کې د ملګرو ملتونو تر څنګ د سیمې ځینې هېوادونه ورګډ کړل او د سولې په تړاو یې په ترکیه کې د یوه مهم کنفرانس د جوړېدو خبره وکړه.
د دې تر څنګ عام افغانان هم نور له جګړو ستړې دي. دوی په دې تمه دي چې دا ځل لکه د تېرو ځلونو په څېر تېر نه ایستل شي او امریکا په رښتیني توګه نور د افغانستان مسئله یو طرفه کړي او دلته روانې جګړې ته په تمامه مانا د پای ټکی کېږدي. د افغان حکومت نظر هم دا دی چې روانه جګړه باید د خبرو له لارې پای ته ورسول شي، خو تر څنګ یې دا شعار هم ورکوي چې حکومت همدا دی او طالبان باید په دې حکومت کې مدغم شي، هغه څه چې طالبان یې نه مني او دغه ډله تر هر څه وړاندې د اوسني حکومت له رسمي منلو تېرېږي.
اوس اساسي خبره دا ده چې امریکا باید په رښتیني توګه د افغان سولې لپاره کار وکړي. که په رښتیا غواړي چې افغان جګړه ختمه شي، نو په افغانستان کې د رښتینو سوله ساتو کسانو مشورې دې له ځان سره واخلي او دلته دې د ستونزې لپاره داسې یوه حللاره پیدا کړي چې د جګړو د ختمېدو سبب شي. نه دا چې امریکا لکه خپل سرتېري یې چې له جګړې را و ایستل، دا ځل ځان د افغان جګړې له مسوولیت وباسي، له دې ځایه پښې سپکې کړي او افغانانو ته یوه بله خونړۍ جګړه په میراث پرېږدي. افغان چارواکو ته هم په کار ده چې په پوره تدبیر د سولې روان بهیر مدیریت کړي، د شخصي ګټو پر ځای دې ملي او د ولس ګټو ته لومړیتوب ورکړي، د واک د ساتلو او خپل ځان د ګټو لپاره دې د سولې لپاره دا مهم رامنځته شوی فرصت نه ضایع کوي. د ولسمشر شاوخوا کسان دې نوموړي ته حقیقي مشورې ورکړي او یوازې د خپلو څوکیو لپاره دې د غلطو معلوماتو له ورکړې او غیر مسوولانه اقداماتو ډډه وکړي؛ ځکه نړیوال فرصتونه کله کله هېوادونو ته برابرېږي او که ګټه ترې وا نه اخیستل شي، د یوه ملت په حق کې جفا ده.

# د سوریې لس کلنه کورنۍ جګړه څنګه پیل شوه؟

بي‌بي‌سي- پښتو

۱۰ کاله مخکې د سوریې د ولسمشر پر وړاندې یو سوله ییز پاڅون په پوره کورنۍ جګړه بدل شو. د دې جګړې له امله تر ۳۸۰ زرو ډېر کسان ووژل شول، ښارونه وران شول او نور هېوادونه پکې ښکېل شول.
ان د شخړې له پیلېدو مخکې ډېری سوري وګړو د ولسمشر بشارالاسد، چې په ۲۰۰۰ کال کې د خپل پلار حافظ له مړینې وروسته واک ته ورسېد، د واکمنۍ پر مهال د لوړې بېکارۍ، اداري فساد او د سیاسي خپلواکۍ نشتون په اړه شکایت کاوه.
د ۲۰۱۱ کال په مارچ میاشت کې په سویلي ښار دېرا کې د ډیموکراسۍ په پلوۍ لاریونونه پیل شول، چې په ګاونډیو هېوادونو کې د جابرو واکمنو پر ضد له پاڅونونو یې الهام اخیستی و. کله چې د سوریې دولت د دغه مخالفت د ځپلو لپاره له وژونکي ځواک کار واخیست، د ولسمشر د استعفا د غوښتنې لپاره لاریونونه په ټول هېواد کې راپورته شول.
ناارامي زیاته شوه او حکومت محدودیتونه زیات کړل. مخالفو لاریونوالو وسلې واخیستې، لومړی د دې لپاره چې د ځانونو دفاع وکړي او وروسته د دې لپاره چې له خپلو سیمو امنیتي ځواکونه وباسي. ښاغلي اسد ژمنه وکړه چې د دغو یاغیانو مخنیوی به کوي او په وینا یې دوی د بهرنیو په ملاتړ ترهګري کوي.
تاوتریخوالی په چټکۍ زیات شو او دغه هیواد کې کورنۍ جګړه پیل شوه. په سلګونو یاغي ډلې راپورته شوې او ډېره موده ونه شوه چې دغه جګړه په یوه داسې جګړه بدله شوه چې د ښاغلي اسد په پلوۍ او یا یې پر ضد کېدله.
بهرنیو قدرتونو هم د خپلو خپلو خواوو مالومول پیل کړل، هغوی ته یې پیسې، وسلې او وسله‌وال ولېږل. دا چې وضعیت خراب شو، سخت دریځه اسلامپالې ډلې لکه داعش او القاعده د خپلو موخو لپاره په جګړه کې ښکېلې شوې. په دې سره نړیواله ټولنه کې چې دغو ډلو ته یې د لوی ګواښ په سترګه کتل، اندېښنې زیاتې شوې.
د سوریې کوردان چې د خپلواک دولت لپاره حق غواړي، خو د ښاغلي اسد له ځواکونو سره یې جګړه نه ده کړې، د سوریې د جګړې بل لوری جوړوي.

**څومره کسان وژل شوي؟**

د سوریې د بشري حقونو څارډله چې مرکز یې بریتانیا کې دی او په سیمه کې د سرچینو یوه شبکه لري، د ۲۰۲۰ کال تر ډسمبر پورې د دړې لکه ۸۷ زره ۱۸۱ کسانو مړینه مستند کړې ده، چې له دې ډلې یو لک ۱۶ زره ۹۱۱ ملکي وګړي دي.
په دغو شمېرو کې هغه دوه لکه پنځه زره درې سوه کسان نه دي شامل چې ویل کیږي لادرکه شوي او یا هم ښایي مړه شوي وي. په دوی کې هغه ۸۸ زره ملکیان هم دي چې باور کیږي د سوریې دولت تر واک لاندې زندانونو کې د شکنجو له امله مړه شوي دي.
د تاوتریخوالي مستندولو مرکز په نوم بله څارډله چې په دغه هېواد کې له میشت فعالانو مالومات راټولوي، هغه څه یې ثبت کړي چې له نړیوالو بشردوستانه حقوقو او نړیوالو بشري حقوقو سرغړونې ګڼل کیږي، چې پکې پر ملکي وګړو بریدونه هم شامل دي. دې ډلې د ۲۰۲۰ کال تر ډسمبر میاشتې د جګړې له امله د دوه لکه ۲۶ زره ۳۷۴ کسانو وژل کېدل ثبت کړي، چې له دې ډلې ۱۳۵۶۳۴ یې ملکي وګړي دي.
د ماشومانو لپاره د ملګرو ملتونو د وجهي صندوق یا یونیسف د راپور له مخې، په دغه جګړه کې نږدې ۱۲ زرو ماشومانو ته هم مرګ‌ژوبله اوښتې ده.

**څوک پکې ښکېل دي؟**

په تېره یوه لسیزه کې د حکومت مهم ملاتړي هېوادونه روسیه او ایران دي، په داسې حال کې چې ترکیه او لوېدیځ قدرتونه او ځینې عربي هېوادونه له مخالفو ډلو په بېلابېلو کچو ملاتړ کوي.
روسیه چې له جګړې وړاندې یې په سوریه کې نظامي اډې درلودې، په ۱۵۲۰- کال کې یې د ښاغلي اسد په پلوۍ هوایي جګړه پیل کړه او جګړه یې د حکومت په ګټه راوګرځوله.
د روسیې پوځ وایي، دوی یوازې ترهګر په نښه کوي؛ خو فعالان وایي، دوی په منظم ډول مهم مخالف وسله‌وال او ملکیان وژني.
ایران چې باور کیږي په سوریه کې یې سلګونه پوځیان ځای پر ځای کړي، د ښاغلي اسد د مرستې لپاره یې په میلیاردونو ډالر لګولي دي.
ایران په زرګونو شیعه ملېشو ته وسلې ورکړې، هغوی یې روزلي او مالي ملاتړ یې کوي. د دغو وسله‌والو ډېری برخه د لبنان له حزب الله ډلې جوړه شوې، خو تر څنګ یې د عراق، افغانستان او یمن وسله‌وال هم د سوریې د پوځ په ملاتړ جګړه کوي.
امریکا متحده ایالتونو، بریتانیا او فرانسې په لومړیو کې له منځ لارو وسله‌والو ملاتړ کاوه؛ خو دوی له هغه وروسته چې جهادي ډلې د مخالفانو په منځ کې پیاوړې شوې، ولسي مرستې ته یې لومړیتوب ورکړ.
د امریکا په مشرۍ نړیوالې ټلوالې هم هوایي بریدونه کړي او په سوریه کې یې له ۲۰۱۴ کال راهیسې ځانګړي ځواکونه مېشت دي، چې له کورد او عرب ملېشو جوړې ټلوالې سره چې د سوریې ډیموکراټ ځواکونه بلل کیږي، مرسته کوي او هغه سیمې نیسي چې د داعش وسله‌والو لخوا په شمال- ختیځ کې نیول شوې وې.
ترکیه د اپوزیسون تر ټولو لوی ملاتړی هېواد دی، خو تمرکز یې پر دې دی چې له ځینو وسله‌والو ډلو د کوردي ملېشو د ځپلو لپاره ګټه واخلي، هغه ملېشې چې د سوریې ډیموکراټ ځواکونه یې تر نفوذ لاندې دي، ترکیه دغه کردي ملېشې له هغو کوردي ډلو سره په اړیکو تورنوي چې په ترکیه کې یې فعالیت بند شوی دی.
د ترکیې پوځ او د هغوی په پلوۍ ځایي یاغیانو د سوریې په شمالي سرحدي سیمو کې ځینې سیمې ونیولې او د حکومتي ځواکونو لخوا یې د مخالفانو پر وروستي پټنځي ادلیب د بریدونو د مخنیوي لپاره مداخله وکړه.
سعودي عربستان چې د ایران د نفوذ د مخنیوي هڅه کوي، د جګړې په پیل کې یې د یاغیانو مالي ملاتړ وکړ او هغوی ته یې وسلې ورکړې، د سعودي عربستان سیال قطر هم ورته کار وکړ.
په ورته وخت کې اسراییل په سوریه کې د ایران د نفوذ په اړه سخته اندېښنه لري او هغه د ایران د نظامي پیاوړتیا په توګه ګڼي. اسراییل همدا راز حزب الله ډلې او نورو شیعه ملېشو ته د ایران د وسلو د لېږد په اړه اندېښنه لري او د دې لپاره چې د هغوی ګواښ له منځه یوسي، پر هغوی یې هوایي بریدونه تر سره کړي دي.

**دغه هېواد یې څنګه اغېزمن کړی؟**

د سوریې د بشري حقونو څار ډلې ویلي، د دې جګړې له امله په لکونو کسان وژل شوي، له ۲.۱ میلیون ډېر ملکیان ټپي او یا هم معلول شوي دي.
له جګړې مخکې د سوریې د ۲۲ میلیونه نفوس نیمایي برخه له خپلو کورونو کوچېدلې ده. شاوخوا ۶.۷ میلیونه د سوریې د ننه بې ځایه شوي دي. ډېری دغه کسان په کمپونو کې ژوند کوي، په داسې حال چې ۵.۶ میلیونه نور له هېواده بهر د کډوالو په توګه ثبت شوي دي.
ګاونډي هېوادونه لبنان، اردن او ترکیه چې د دغو کسانو ۹۳ سلنې ته یې ځای ورکړی، د تاریخ په وروستیو کې د کډوالو له ستر ناورین سره مخ دي. یو میلیون سوري کډوال ماشومان له خپل هېواد بهر زیږېدلي دي.
د ملګرو ملتونو د راپور له مخې، د ۲۰۲۱ کال تر جنوري میاشتې ۱۳.۴ میلیونه کسانو په سوریه کې بشردوستانه مرستو ته اړتیا درلوده، چې د ۶ میلیونو دغه اړتیا ډېره سخته او جدي ده. له ۱۲ میلیونو ډېر کسان هره ورځ د ډوډۍ د پیدا کولو له ستونزې او نیم میلیون ماشومان له سختې خوارځواکۍ سره مخ وو.
په تېر یو کال کې بشري ناورین د اقتصادي ستونزو له امله پېچلی شوی دی، چې په دغه ناورین کې د سوریې پیسه هم په بې ساري ډول راټیټه شوه او د خوراک توکو بیې په تاریخي ډول لوړې شوې.
پر دې سربېره، دغه هېواد د کوېډ- ۱۹ له امله هم وځپل شو، چې دقیق مالومات یې په اړه نشته، ځکه چې په دغه هېواد کې د کرونا ټیسټ محدود او روغتیایي سیستم په بې ساري ډول کمزوری شوی دی.
له یوې لسیزې جګړې وروسته په دغه هېواد کې ټول ګاونډ او مهمې زیربناوې په کنډوالو بدلې شوې دي. د ملګرو ملتونو د فضایي بېړیو شننه ښیي چې د ۲۰۱۶ کال په وروستیو کې د دولتي ځواکونو لخوا تر بېرته نیول کېدو وړاندې د سوریې په حلب ښار کې له ۳۵ زرو ډېرې ودانۍ زیانمنې شوې یا نړېدلې دي.
سره له دې چې د ډاکترانو حالت خوندي دی، خو بیا هم د ۲۰۲۰ کال تر مارچ میاشتې پر ۳۵۰ روغتیایي مرکزونو ۵۹۵ بریدونه شوي دي، چې دغه بریدونه د بشري حقونو لپاره د ډاکترانو لخوا مستند شوي دي او له امله یې ۹۲۳ روغتیاپال وژل شوي دي. د دغو بریدونو له امله یوازې د دغه هېواد نیمایي روغتونونه په پوره فعال ډول فعالیت کوي.
د سوریې ډېری بډایه تاریخي میراثونه هم نړېدلي دي. د دغه هېواد ټول ۶ تاریخي ځایونه چې د یونیسکو د نړیوالو میراثونو په لېست کې دي، سخت زیانمن شوي دي. د داعش وسله‌والو د پالمیرا لرغوني ښار ډېری برخې په قصدي ډول په بمونو الوځولې.
د ملګرو ملتونو د جنګي جرمونو څېړونکو ټولې خواوې په ډېرو سختو سرغړونو تورنې کړې دي. د دوی وروستی راپور چې سرلیک یې «سوریان» دی، ښیي چې «په ګڼ مېشتو سیمو کې پراخ هوایي بریدونه شوي او پر دوی همدا راز د کیمیاوي وسلو بریدونه تر سره شوي او په داسې ډول کلابند شوي چې مرتکبانو یې په قصدي ډول ملکیان له لوږې سره مخ کول او دوی ته یې د بشردوستانه مرستو د رسېدو پر وړاندې خنډونه جوړول او پر هغوی یې د شرم وړ محدودیتونه لګول.

**اوس د دغه هېواد کنټرول د چا په لاس دی؟**

حکومت د سوریې لوی ښارونه بېرته تر خپل کنټرول لاندې راوستي، خو اوس هم د دغه هېواد ډېری برخه د مخالفو وسله‌والو، جهادي ډلو او د سوریې د ډیموکراټ پوځ په مشرۍ د کوردانو کنټرول کې ده.
وروستي ځایونه چې اوس هم د مخالفانو ولکه کې دي، د سوریې شمال- لوېدیځ ولایت ادلیب دی او همدا راز له ادلیب سره د شمالي حما او حلب ولایتونو ځینې ګاونډۍ برخې هم د دوی تر کنټرول لاندې دي.
دغه سیمه د حیات التحریر الشام په نامه له القاعده سره د تړلې یوې جهادي ډلې لخوا اداره کیږي، خو په ورته وخت کې د مهمو مخالفو وسله‌والو ټاټوبی هم دی.
شاخوا ۲.۷ میلیونه بې ځایه شوي کسان چې نږدې یو میلیون ماشومان هم پکې شامل دي، دلته ژوند کوي او له دوی ډېری په سختو شرایطو کې په کمپونو کې ژوند کوي.
د ۲۰۲۰ کال په مارچ کې روسیې او ترکیې د سوریې حکومت لخوا د ادلیب د بیا نیولو د عملیاتو د ځنډولو لپاره د یو اوربند منځګړیتوب وکړ. له هغه وروسته یو څه وضعیت ارام شوی، خو احتمال شته چې هره شېبه دغه اوربند مات شي.
د دغه هېواد په شمال- ختیځ کې د ۲۰۱۹ کال په اکتوبر میاشت کې د ترکیې پوځ او د هغوی پلویانو سوري یاغیانو د سوریې د ډیموکراټ ځواکونو پر ضد عملیات پیل کړل، څو د ترکیې له پولې سره د سوریې په خاوره کې یوه خوندي سیمه رامنځ ته کړي، چې د کورد ملېشې وا پي جي پکې نه وي او د ترکیې پوځ همدا راز له هغې مودې راهیسې ۱۲۰ کیلومتره اوږده سیمه نیولې ده.
د دغو عملیاتو د مخنیوي لپاره د سوریې ډیموکراټ ځواکونو د سوریې له حکومت سره یوه هوکړه وکړه، چې له امله یې د سوریې پوځ دې سیمې ته چې د کوردانو لخوا اداره کېدله، په تېرو اوو کلونو کې د لومړي ځل لپاره بیا راوګرځي. حکومت ژمنه کړې چې دغه سیمه به بالاخره په بشپړه توګه تر خپلې اداري لاندې راولي.

**دغه جګړه به پای ته ورسیږي؟**

داسې نه ښکاري چې دغه جګړه به په نږدې راتلونکي کې پای ته ورسیږي، خو هر څوک دا مني چې یو سیاسي حل ته اړتیا ده.
د ملګرو ملتونو امنیت شورا د ۲۰۱۲ کال د جینوا اعلامیې د تطبیق غوښتنه کړې ده، چې پکې د یوې انتقالي اداري د رامنځ ته کېدو وړاندوینه شوې وه، داسې اداره چې د دوه اړخیز رضایت پر بنسټ جوړه شوې وي.
د ملګرو ملتونو په منځګړیتوب د سولې خبرو ۹ پړاوونه چې د جینوا ۲ پروسې په نامه یادیږي، بې پایلې وو او هیڅ پرمختګ پکې ونشو، ځکه چې ولسمشر اسد په ښکاره دې ته چمتو نه دی، چې له مخالفو ډلو سره پر هغه حللار خبرې وکړي چې له امله یې باید هغه له دندې استعفا وکړي.
روسیې، ایران او ترکیې هم په ۲۰۱۷ کال کې د سیاسي خبرو ورته لړۍ چې د استانې پروسې په نامه یادېده، پیل کړه.
تېر کال هوکړه وشوه چې ۱۵۰ کسیزه کمېټه جوړه شي چې نوی اساسي قانون ولیکي او د ملګرو ملتونو په نظارت سره ازادو او عادلانه ټاکنو ته لار پرانیزي، خو د ملګرو ملتونو ځانګړي استازي ګیر پیدرسن د ۲۰۲۱ کال په جنوري میاشت کې وویل، دوی تر اوسه د هیڅ ډول اصلاحاتو ان لیکل نه دي پیل کړي.
ښاغلي پیډرسن همدا راز وویل، له پنځو بهرنیو پوځونو سره چې په سوریه کې فعالیت لري، نړیواله ټولنه وړاندوینه نشي کولای چې د جګړې حللاري یوازې د سوریانو په لاسونو کې دي.

# نیالګي کېنوئ

لیکنه: لیلا
د چین میډیا ګروپ د پښتو څانګې خبریاله

د چین د دولت رییس شي جین پینګ د مارچ په اوومه نېټه، د ۱۳م ملي ولسي کانګرېس په څلورمه غونډه کې د داخلي مغولستان پلاوي د بحث په ناسته کې وویل، چې موږ باید پاکې اوبه او شنه غرونه د طلایي او نقره یي غرونو په څېر وبولو او باید پر همدې مفکورې ټینګار وکړو، ایکولوژیکي چاپېریال ته باید لومړیتوب ورکړو او د شین پرمختګ لاره باید تعقیب کړو، د ایکولوژیکي چاپېریال د ساتنې او ترمیم پروژې باید ښې او سمې تر سره کړو، د ایکولوژیکي سیستم ساتنه باید ګړندۍ او د ایکولوژیکي سیستم ثبات او پایښت باید پیاوړی کړو.

لنډ ویلی شو چې بشر «پاکو اوبو او شنو غرونو» ته اړتیا لري، نو موږ ټول باید د اوبو سرچینو او ونو ساتنې او د نیالګیو کېنولو ته ځانګړې پاملرنه وکړو. د ایکولوژیکي او شین چاپېریال د ساتلو لپاره اړ یو، چې ډېر نیالګي کېنوو.

چینایانو په لرغوني زمانه کې د چینګ مینګ فیستېوال په شاوخوا ورځو کې یانې هر کال د اپریل په پیل کې د نیالګیو کېنولو دود درلود. چیني پوهانو په ۱۹۱۵ کال کې د نیالګیو کېنولو د ځانګړې ورځې وړاندیز کړی و، خو په دغه هیواد کې په ۱۹۷۹ کال کې د مارچ په ۱۲ مه د نیالګیو کېنولو ملي ورځې په توګه وټاکل شوه.

د چین دولت د ۱۹۸۲ کال د فبرورۍ په ۲۷مه نېټه حکم وکړ، چې هر چیني وګړی چې یوولس کلنۍ ته رسیدلی وي، شرایطو ته په کتو مکلف دی، چې په کال کې له دریو څخه تر پنځو پورې نیالګي کېنوي او ساتنه یې وکړي.

د چین دولت له یاد حکم سره سم اوس هر کال په ټول چین کې د نیالګیو کېنولو فعالیت تر سره کوي. له شمېرنې سره سم، د چین دولتي مشرانو او ملکي وګړو له ۱۹۸۲ کال راهیسې په رضاکارانه توګه نیالګي کېنولي، چې شمېر یې کابو ۴۹ میلیاردو او ۲۰۰ میلیونو ته رسېږي.

د چین د کمونېست ګوند مشر او د هېواد لوی رهبر شي جین پینګ د نیالګیو کېنولو چارو ته په درنه سترګه ګوري او هر کال د نیالګیو کېنولو فعالیت کې برخه اخلي. شي جین پینګ د ۲۰۲۰ کال د اپرېل په دریمه د بېجینګ ښار په دا شینګ سیمه کې د عامو خلکو د نیالګیو کېنولو فعالیت کې ګډون وکړ او ویې ویل، چې د ونو کېنولو په ټولنیز فعالیت کې زموږ برخه اخیستنه، نه یوازې دا چې په واقعي کړنو سره د اقتصادي او ټولنیزو چارو د اعاده کېدو هڅونه کوو، بلکې خپل چاپېریال او طبیعت ساتو، درناوی یې کوو او پر همدغو چارو ټینګار کوو.

د چین بېلابېلې دولتي اداري، شرکتونه، مختلفې ټولنې، پوهنتونونه، منځنې او لومړني ښوونځي د هر کال په پسرلي کې خپل پرسونل تنظیموي او د نیالګیو کېنولو فعالیت کې ګډون کوي.

په چین کې اوس انټرنېټي ټېکنالوژۍ چټکه پراختیا کړې ده، نو له دې وروستیو کلونو راهیسې په دغه هېواد کې د انټرنېټ له لارې د ونو کېنولو بېلابېل فعالیتونه ډېر مروج شوي دي او انټرنېټ کاروونکي کولی شي د ګرځنده ټلیفون د ځانګړي اپلیټ (Applet) له لارې د نیالګیو کېنولو کې مالي مرسته وکړي او د ګرځنده ټلیفون له لارې وخت په وخت د ونو حالات وڅاري.

په چین کې د نیالګیو کېنولو ورځ په ۱۹۷۹ کال کې ټاکل شوې، له هغه وخت راهیسې ۴۲ کاله تېر شوي او ټول خلک هر کال ونې کېنوي او ښې پایلې یې تر لاسه کړې دي. د تېرې پېړۍ د ۷مې لسیزې په پیل کې په چین کې پر ځنګلونو د پوښل شوې ځمکې انډول ۱۲ اعشاریه ۷ سلنه و او دا په ۲۰۱۸ کال کې ۲۲ اعشاریه ۹۶ سلنې ته لوړ شو. اوس د چین ۲۲۰ میلیونه هکټاره ځمکه پر ځنګلونو پوښل شوې، چې دا په نړۍ کې لومړی مقام نیسي.

۲۰۲۱ کال د چین د اقتصادي او ټولنیز پرمختګ د ۱۴م پنځه کلن پلان لومړی کال دی. د دغه پلان په مسوده کې وړاندیز شوی، چې د ایکولوژیکي تمدن په جوړولو کې دې نوی پرمختګ تر لاسه او د ځنګلونو د پوښښ کچه دې ۲۴ اعشاریه ۱ سلنې ته لوړه شي. د ایکولوژیکي چاپېریال د جوړولو لپاره دې دوامدارې هڅې وشي، د ایکلوژیکي چاپیریال د خوندیتوب دېوال دې لا مضبوط او کلک شي او د ښاریانو او بزګرانو ژوند ته دې ځانګړې پاملرنه وشي.

ملګري ملتونه وایي چې د ځنګلونو ایکولوژیکي توازن او دوامدار پرمختګ د ساتنې او د چاپیریال د ښه والي لپاره د افغانستان په ګډون، د نړۍ څه د پاسه ۵۰ هېوادونو د نیالګیو کېنولو ځانګړې ورځې ټاکلې دي.

افغان حکومت د هجري شمسي جنترۍ له مخې، هر کال د کب ۲۰مه د نیالګیو کېنولو ملي ورځ ټاکلې ده. د دغه هېواد په کونړ او نورستان ولایتونو کې پراخ او ګڼ ځنګلونه شته، خو د دغه هیواد په لوېدیځ، جنوب او شمال کې لږ بارانونه کیږي، کله کله په دغو سیمو کې وچکالي وي او دښتې شاړې پرتې وي، نو د نیالګیو کېنول یوه ملي واجبه ده، چې افغان حکومت یې کلک ملاتړ کوي.

افغان ملګرو! پسرلی را روان دی، راځئ نیالګي کېنوو او خپل چاپیریال شین او سرسبز کړو!

# په مسکو کې د سولې کنفرانس؛

## د امریکا او افغان حکومت په شمول ټول بلل شوي اړخونه په دې ناسته کې ګډون کوي



د افغان سولې په اړه د مسکو غونډې د جوړېدو لپاره هڅې ګړندۍ شوې دي او اړینې همغږۍ رامنځ ته شوې دي. تازه د افغانستان لپاره د روسیې د ولسمشر ځانګړي استازي ضمیر کابلوف ویلي، چې د امریکا په ګډون ټولو بلل شوو لورو د مسکو په غونډه کې د ګډون لپاره تیاری ښودلی دی.

بلخوا د افغان سولې لپاره د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ځانګړی استازی کابل ته راغلی او له ولسمشر غني او ډاکټر عبدالله عبدالله سره یې د سولې بهیر پر چټکتیا خبرې کړې دي. طالبانو هم د مسکو غونډې لپاره د خپل پلاوي د جوړېدو خبر ورکړی دی.

وروسته له هغې چې د افغان سولې لپاره د امریکا له لوري نړیوالې او سیمه‌ییزې هڅې چټکې شوې، نو مسکو هم دا وپتېیله چې په دې برخه کې خپله ونډه ولري او د افغانستان د سولې په تړاو یو کنفرانس جوړ کړي. د روسیې د بهرنیو چارو وزیر وویل چې غواړي افغان جګړه د خبرو له لارې ختمه شي، نو له همدې امله یې د مسکو د کنفرانس لپاره تیاری پیل کړی دی. د روانې میلادي میاشتې په ۱۸مه دغه کنفرانس جوړېږي او پکې به د افغان حکومت او طالبانو استازي هم حضور ولري.

له دې سره جوخت د افغان سولې لپاره د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ځانګړی استازی زلمي خلیلزاد له دوحې کابل ته راغلی او دلته یې په ارګ کې له ولسمشر غني او سپېدار ماڼۍ کې له ډاکټر عبدالله عبدالله سره کتلي دي. د ارګ له مطبوعاتي دفتره په خپره شوې اعلامیه کې راغلي، چې خلیلزاد په دې لیدنه کې ولسمشر غني ته د خپلو وروستیو سفرونو او د سولې په برخه کې د پرمختګونو په اړه معلومات ورکړل.

د سرچینې په خبره، په دې لیدنه کې پر راتلونکو اقداماتو هم خبرې شوې دي.

په اعلامیه کې راځي: «په دې کتنه کې، ډاکتر زلمي خلیلزاد د وروستیو سفرونو او فعالیتونو په اړه جمهور رئیس ته معلومات ورکړل او دواړو لوریو د سولې پروسې او په دې اړه د راتلونکو اقداماتو په اړه بحث او خبرې وکړې».

بلخوا د ملي مصالحې عالي شورا له لوري په خپره شوې اعلامیه کې راغلي، چې خلیلزاد د سولې بهیر پر چټکتیا ټینګار کړی او له عبدالله عبدالله سره یې په خبرو کې د وروستیو پرمختګونو او جوړېدونکو کنفرانسونو په اړه خبرې کړې دي. په دې لیدنه کې د ملي مصالحې عالي شورا پر وروستۍ غونډې هم خبرې شوې دي. په اعلامیه کې راځي، چې تر ډېره پر دې بحثونه شوي چې د افغانستان د سولې بهیر باید ګړندی شي او په دې برخه کې دې هڅې لا ډېرې کړل شي. سرچینه کاږي: «دواړو لورو د وروستیو پرمختګونو او سولې اړوندو تحولاتو، د ملي مصالحې عالي شورا د وروستیو پرېکړو، د افغان سولې په اړه د مسکو او استانبول کنفرانسونو، دوحې مذاکراتو، د سولې بهیر پر چټکتیا او د تاوتریخوالي پر کمولو خبرې کړې دي».

بلخوا راپورونه وایي، چې افغان حکومت د مسکو په غونډه کې د ګډون لپاره په تیاریو بوخت دی. د افغانستان لپاره د روسیې ځانګړي استازي ضمیر کابلوف ویلي، چې د طالبانو او افغان حکومت په ګډون د افغان سولې لپاره د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد هم د مسکو په غونډه کې د ګډون لپاره تیاری ښودلی دی. کابلوف وایي چې دغه غونډه به د روانې میاشتې په ۱۸مه په مسکو کې جوړه شي او هڅه به دا وي چې د افغان جګړې د پای لپاره حللاره پیدا کړل شي.

له دې سره جوخت د طالبانو د قطر دفتر ویاند هم ویلي، چې د مسکو په غونډه کې یې د ګډون لپاره پلاوی تیار کړی دی. د ده په خبره، د ملا برادر په مشرۍ به د طالبانو یو لس کسیز پلاوی د مسکو په غونډه کې ګډون کوي او پر افغان سوله به خبرې کوي.

دا پرمختګونه داسې مهال رامنځ ته کېږي چې عام افغانان نور له جګړو ستړي شوي دي او تمه لري چې د سولې روانې هڅې په سمه توګه مدیریت شي او افغان جګړې ته د پای ټکی کېږدي.

# راپورونه: په میانمار کې د حکومتي ځواکونو په ډزو کې ۴۰ لاریونوال وژل شوي دي



د راپورونو له مخې، په میانمار کې حکومتي ځواکونو پر لاریونوالو ډزې کړې، چې په پایله کې یې نږدې ۴۰ کسان وژل شوي دي. رویټرز خبري اژانس له بندیانو سره د مرستې لپاره د بشري حقونو د سازمان له خولې خبر ورکړی، چې ۲۲ تنه اعتراض کوونکي په هیانګتایا سیمه کې د امنیتي ځواکونو په ډزو کې وژل شوي دي.

د دغه تاوتریخوالي عمده برخه د میانمار د پلازمېنې یانګون په شاوخوا سیمه کې شوې، چې چیني کارخانې پکې پرتې دي. چین د میانمار د پوځي حکومت ملاتړی ګڼل کېږي.

بلخوا د میانمار د پوځي حکومت د ټلوېزیون د راپور له مخې، دغه نښته وروسته له هغې وشوه، چې اعتراض کوونکو د کالیو جوړولو څلور کارخانې او د کېمیاوي سرې یوه کارخانه وسوځوله. د سرچینې په خبره، له دې پېښې وروسته حکومتي پوځیانو پر لاریون کوونکو ډزې کړې، چې یاده مرګ ژوبله پکې اوښتې ده.

رویټرز خبري اژانس د دغه ټلوېزیون د رپوټ په اساس ویلي، چې شاوخوا دوه زرو تنو اعتراض کوونکو د اور وژنې د عملې پر وړاندې سړکونه تړلي وو، چې د اور سیمې ته د رسېدو مخه یې ونیول شي، خو بیا هم د میانمار د پوځي حکومت ویاندویانو د دغې پېښې په اړه جزیات نه دي ورکړي.

په میانمار کې دغه تاوتریخوالی د فبرورۍ د میاشتې د لومړۍ نېټې له پوځي کودتا راهیسې په دغه هېواد کې تر ټولو خونړی ګڼل شوی دی.

د یادونې ده چې په میانمار کې اعتراضونه اووه اونۍ مخکې وروسته له هغې پیل شول، چې کودتاچیانو د دغه هېواد مشره انګ سان سوچي او نور حکومتي مشران له دندو لرې او زنداني کړل.

په دې موده کې د میانمار د پوځي حکومت د ټلویزیون د رپوټ له مخې، امنیتي ځواکونو ۱۲۶ کسان وژلي او ۲۱۵۰ تنه یې بندیان کړي دي.


په ورته مهال د ملګرو ملتونو په ګډون، ګڼو اروپایي او لویدیځ هېوادونو له لاریونوالو سره د میانمار د پوځ وروستی تاوتریخوالی غندلی او د یاد هېواد له پوځي چارواکو یې غوښتي چې ژر تر ژره دې د سوله‌ییزو لاریونوالو پر وړاندې له دغه ډول پاروونکو اقداماتو لاس واخلي.

## د کتـاب خبـرې

# د جاسوسۍ پېښلړ RAW, ISI او د سولې وهم

◎ لیکوالان: اې. اېس دولت، اسد دوراني او ادېتیا سېنها
◎ ژباړه: د اکسوس د ژباړې بورډ

### پنځمه برخه
### حساسې شېبې




نو د قوت له مقامه خبرې کول یوازې د ځان تېر اېستنه ده. خو د قوت له مقامه خبرې کول په یوه ارزښت بدل شوي دي، په ځانګړې توګه پوځونو ته. خو څه وجه ده، چې موږ هڅه کوو ترهګر ضعیف شي، خو دوی قوي کېږي، لکه افغان طالبان؟ که دوی ضعیف شي څه به وشي؟ دوی به بیا هم انتظار وکړي چې د پنځو یا لسو کلونو په جریان کې بېرته ځواکمن شي.

خو ددې کلیشې تر ټولو بده برخه دا ده، چې کله نور اړخونه کمزوري وي او ته ځواکمن یې، لومړی ته نه غواړې چې مذاکره وکړې. لکه په ۲۰۰۲ کال کې چې د افغان طالبانو په اړه رمزفېلډ ویل چې دوی نور نشته، دوی نور یوازې په تاریخ کې پاتې دي. پایله یې دا شوه، چې ۱۵ کاله وروسته چې خبرو ته راوبلل شول دوی ورته وویل، «موږ ولې باید خبرې وکړو؟ موږ د افغانستان د نیولو په حال کې یوو، امریکایان به نور افغانستان کې نه وي.» ښایي دوی غلط وایي. دوی افغانستان نشي نیولی او که امریکایان هم هلته نه وي، خو اغېزې به یې وي.

دا ترهګري ده، چې د جګړې بهانه په لاس درکوي او همدارنګه د هر دولت لپاره ترهګري یوه غوره سیاسي وسیله ده.

دولت: ما له آډریان لېوي سره څو ځله خبرې کړې دي. د The Meadow کتاب لومړی نیمایي برخه یې سمه ده. د دویمې برخې په اړه یې شکونه دي، چې ماخذ یې د جمو او کشمیر پولیس افسر دی، چې د باور وړ ماخذ نه دی.

دوراني: څوک؟ نوم یې لیکل شوی دی؟

سېنها: هو، دی د کتاب اتل دی.

دولت: په هر حال، نوم یې مهم نه دی.

په هند کې مې نیکسال (د هندي کمونیستانو ساحه؛ Naxal) له یاده ووته. کور دې ودان وي، یوازینی ځای دی، چې په کې پر پاکستان تور نه لګوو.

سېنها: ښاغلی دولته، مخکینی لومړی وزیر راجیو ګاندي تامل ایلم پړانګانو (LTTE) ترور کړ، چې له پاکستان سره یې هېڅ اړیکې نه درلودې.

دولت: بالکل. همدارنګه یو وخت دی سریلانکا ته په سفر روان و، چې نږدې و ووژل شي، د تشریفاتي ګارډ یوه پوځي ټوپک پرې را اړولی و او دی یې ویشتلی و، خو له نېکه مرغه وژغورل شو.

سېنها: هند له ISI څخه ډېر وېرېږي.

دولت: له همدې کبله ISI باید غوره اداره وي، ځکه هر څه چې په هند کې پېښېږي، ISI یې کوي.

سېنها: په یاد مې دي، چې په ۱۹۹۰ لسیزه کې د IB ځوانانو د ISI د یوه داسې پلان په اړه خبرې کولې، چې په وسیله یې هند کلابند کېدای شواى. د کشمیر- په ځانګړي ډول K۲ پلان.

دولت: هو K۲ هم و، کلابندي هم وه. په دې اړه مې همکارانو ډېر څه راته ویلي دي. همدارنګه دوی د پاکستان د بېلوالي په اړه هم ډېرې خبرې راته کړې دي، چې ما به بېرته ورته ویل چې داسې څه به ونشي. دا خو څه د کیلې جمهوریت نه دی، همدارنګه دا کار په نړۍ کې هېڅوک هم نه غواړي.

سېنها: جنرال صېب به د هند پر خلاف د همدې دسیسو، K۲ او کلابندۍ په اړه وپوښتو.

دوراني: د ټوپاک عملیاتو په څېر هېڅ دسیسې نه وې، بلکې دروغ دي. په ۱۹۹۸ کال کې په اسلاماباد کې زموږ د لیدنې په وخت کې سوبراهمانیم هم دا خبر ومنله.(دی د نیمرانا خبرو اترو لپاره راغلی و. ما او ده او جي پارتسراتي د ماخستن د ډوډۍ په وخت کې سره ولیدل.)

یو وخت محمود دوراني راته و ویل چې بهارت بوشان چې ژورنالېست دی ووینه. کله چې زه ډیلي ته د پګواش کنفرانس لپاره لاړم، بهارت بوشان د دوو ساعتونو لپاره یوه کلب ته بوتلم او هلته مو جین او ټونیک شراب او د ماهي غوښه وخوړل.

راته ویې ویل چې له حمیدګل سره مې هم لیدنه درلوده. حمید وویل چې هند زموږ د مبارزې لپاره ډېر لوی ځای و، نو مجبور شوو چې په برخو یې ووېشو.

که د پاکستان ټوټه ټوټه کول ستونزمن کار وي، نو د هند ټوټه ټوټه کول، خو زموږ تر سر پورته کار دی. خو که خپله هندیان د هند د ټوټه کولو پرېکړه وکړي، هېڅوک به یې مخه ونشي نیولی. پر نیکسالانو او د سویل پر خلکو د ISI زور نه رسېږي...


زه کله کله دا پوښتنه کوم، چې ولې تاسو هر وخت پر موږ د هر شي تور لګولی دی، خو کله چې مرلي منوهر جوشي د بېرغ جګولو لپاره کشمیر ته پر تګ ټینګار وکړ تاسو پر موږ تور ونه لګاوه.

دولت: هغه خو ۱۹۹۲ کال و.

**دوام لري...**

# شیموس هېني

شفیق امیرزی



شیموس هېني د شلمې پېړۍ له پیاوړو او ویاړلو شاعرانو ګڼل کېږي. نوموړي د خپلو ادبي فعالیتونو په لړ کې په ۱۹۹۵ کال کې د نوبل جایزه وګټله. د نوبل بنسټ نوموړی د ادبیاتو په برخه کې یوه ځلانده څېره وبلله او هغه ته یې د نوبل جایزې ورکړه په شاندارو مراسموونمانځله.

شیموس هېني د ۱۹۳۹ کال د اپرېل په ۱۳مه د ایرلنډ د شمالي- غربي سیمې په بلفاست ښار کې زیږېدلی دی. د نوموړي کورنۍ په بزګرۍ بوخته وه، ګڼه کورنۍ ګڼل کېده، د کورنۍ غړي ډېر وو او دی له اوړدو کلونو وروسته په دې کورنۍ کې لومړنی زیږېدلی ماشوم و. دی لا زلمکی و چې د پلار له نعمت بې برخې شو. تر ده مشر ورور یې هم په همدې کلونو کې ومړ. دې دواړو پېښو یې پر ژوند او ذهن خورا بد اغېز وکړ او د عمر تر پایه یې دا اغېز پر ذهن او فکر پاتې و. نوموړی د زده کړو پر مهال لایق او زیارکښ شاګرد و. پوهنتون ته بریالی شو. د بلفاست له کوینز پوهنتون فارغ شو او د انګلیسي ژبې په برخه کې یې د ممتاز محصل په توګه د لیسانس سند واخیست. دا چې هغه تکړه زده کوونکی و، نو په همدې پوهنتون کې بېرته د انګلیسي ادبیاتو د استاد په توګه وګومارل شو. باور دا دی چې هغه په دې موده کې د ځوانو لیکوالانو د روزنې په برخه کې ډېرې هڅې وکړې او د ځوانو ایرلنډي لیکوالانو روزنې او پالنې ته یې ادامه ورکړه. نوموړي یوازې تدریس نه کاوه، بلکې د تدریس تر څنګ یې لیکنې هم کولې، د ادبیاتو اړوند یې مهمې مقالې خپرولې او تر دې چې په ۱۹۶۳ کال کې یې د فلیپ هابز باوم ډلې پام ځان ته را واړاوه. دا د هغو لیکوالانو ډله وه، چې د نوښت ملاتړې وو، لیکوالانو ته یې د پرمختګ زمینې برابرولې او د دوی په وده کې یې هڅې کولې. په دې ډله کې ځوان شاعران او لیکوالان راټول شوي وو. دې بنسټ د هېني اړیکې له ډېرو لیکوالانو او ادبي بنسټونو سره پراخې کړې.

هېني په ۱۹۶۵ کال کې له ماري دیولین سره واده وکړ. دیولین پخپله یوه پیاوړې لیکواله وه. دیولین هم مهمې لیکنې او څېړنې کولې. هغه تر ډېره د ادبیاتو په برخه کې لیکنې کولې، په ۱۹۹۴ کال کې یې د ایرلنډ د پخوانیو اسطورو او کیسو یوه ټولګه چاپ کړه، چې خورا مشهوره شوه. هېني بیا په خپلو فعالیتونو لګیا و تر دې چې په ۱۹۶۶ کال کې د مډرنو انګلیسي ادبیاتو د استاد په توګه په کویین پوهنتون کې وګومارل شو. په همدې کال یې لومړنی اولاد مېشل نړۍ ته راغی او یو کال وروسته د دویم زوی پلار شو.

هغه یوازې د ایرلنډ په پوهنتونونو کې نه؛ بلکې د نړۍ په نورو پوهنتونونو کې هم د تدریس دنده لرله. هغه له ۱۹۷۰ کال تر ۱۹۸۴ کال پورې د کالیفرنیا په برکلي پوهنتون کې د استاد دنده لرله او تر څنګ یې په کویین پوهنتون کې هم په تدریس او تحصیلي چارو کې برخه اخیسته. هغه د فرهنګ په برخه کې لسګونه مقالې خپرې کړې. په دې موده کې یې پراخې څېړنې وکړې او مقالې یې لیکلې. د ده مهمه ځانګړنه دا ده چې یوازې په شعر او تدریس اکتفا نه کوي؛ بلکې تر څنګ یې څېړنې هم کوي او مقالې هم خپروي. دی مخ پر بریا و، تر دې چې په ۱۹۸۱ کال کې په ایرلنډ کې د پنځو مهمو څېرو په کتار کې راغی. په همدې کال کې د امریکا په هارورډ پوهنتون کې چې د نړۍ په کچه مشهور او د لومړۍ درجې پوهنتون دی، د تدریس مسوولیت ورسپارل کېږي. تر څنګ یې یوه افتخاري دوکتورا د فوردهام او بله افتخاري دوکتورا له کویین پوهنتون تر لاسه کړه. له دې وروسته له ۱۹۸۹ کال تر ۱۹۹۴ کال پورې د برېتانیا اکسفورډ پوهنتون ته ځي او د پنځو کلونو لپاره دلته هم د انګلیسي ادبیاتو د استاد دنده تر سره کوي.

د دغه ایرلنډي لیکوال یوه مهمه ځانګړنه دا ګڼل کېږي چې پخوانیو اسطورو او افسانو ته یې ډېره پاملرنه کړې ده. نوموړي هڅه کړې چې په خپلو پنځونو کې پخوانۍ اسطورې معاصرې یا مډرنې نړۍ ته راکاږي او په خپلو اثارو کې یې نوی روح ور پو کړي. بله ځانګړنه یې دا ده چې انګلیسي ژبې ته یې خورا پاملرنه کړې ده. هغه په انګلیسي مطالعه کړې ده او په انګلیسي ژبه پنځونې لري. نوموړي معاصره او پخوانۍ نړۍ سره وصل کړې دي او ډېری نقادان په دې باور دي چې هېني د پسټ مډرنېزم غوره استازی دی. اثار یې واضح دي، پېچلتیا نه لري او معمولاً طبیعي منظرکشي لري. دی د روح او انساني مانا د کشف په لټه کې دی. هغه د طبیعت د لوړو ژورو او ښو او بدو په اړه دومره په زړه پورې لیکنې کولې، چې د عارفانو تر څنګ د کلیسا لارویان هم هغه د غوره الهامي اثارو په توګه لولي.

هېني پیاوړی لیکوال و، خو تر څنګ یې د خپلو خلکو درد هم لیدلو او د هغې د کمولو لپاره یې هڅه کوله. سره له دې چې نړۍ ته یې لیکوالي کوله؛ خو کله ناکله یې د ایرلنډ د خلکو لپاره هم لیکل کړي دي. هغه په ټوله کې د دې ملاتړی و، چې ایرلنډ د انګلیسانو له نفوذه خلاص هېواد وي او وګړي یې وکړی شي خپله ازادي ولري. له همدې امله یې د ځینو هغو ایرلنډیانو له کړنو ملاتړ کاوه چې دوی له انګریزي تسلط د خلاصون لپاره د تاوتریخوالي او زوریاتي لار غوره کوله. هېني به ویل، د برېټانیا د سیاستونو مخالف دی، خو انګلیسي ژبې او ادبیاتو ته په درنه سترګه ګوري. ده به له همدې امله په خپلو پنځونو کې د انګلیس پر نفوذ نیوکې کولې، لفظي بریدونه یې پرې کول. ده په داسې وخت کې چې پوره درې لسیزې په ایرلنډ کې ناارامي او تاوتریخوالی و، په ښه توګه د خپل هېواد د فرهنګ او ادبیاتو د ساتنې لپاره کار وکړ.

د هېني د شاعرۍ او لیکوالۍ یوه بله مهمه ځانګړنه بې پایه مینه او د مینې د ښکلو معقولو کارونه ده. دا هغه کار دی چې هېني هېڅ وخت نه دی هېر کړی. نوموړي د شمالي ایرلنډ د جګړې پر مهال په رسا ژبه لیکوالانو ته وویل، مه وېرېږئ، باید په پوره جرئت خپل قلم د سولې لپاره وکاروئ او وېره مو ختمه کړئ. هغه په همدې موده کې په ځلونو د ایرلنډ له سیاستوالو او جګړه کوونکو وغوښتل چې خپل ټوپک پر ځمکه کېږدي او د سولې لپاره هلې ځلې وکړي. نوموړی د سولې، مینې او ارامه ژوند ملاتړی و؛ خو تر څنګ یې د خپلو خلکو او هېواد د فرهنګ ساتل هم له سوله ییزو لارو مهم ګڼل.

یو وخت فیبر انډ فیبر مشهورو انتشاراتو د هېني د پنځوس کلن ادبي فعالیت ټولې پنځونې چاپ کړې. دغو انتشاراتو په خپله اعلامیه کې وویل، چې نوموړی د فرهنګ او ادبیاتو په برخه کې له اغېزناکو شخصیتونو او څېرو دی. دی د هغو ګوتې په شمار شاعرانو له ډلې دی، چې ناقدانو یې د شعرونو او پنځونو یوازې ستاینه کړې ده. همدا راز شمېرې او معلومات ښیي چې د هغه شعرونه په اوسنۍ دوره کې په انګلیسي ژبه کې تر بل هر شاعر ډېر لوستل شوي دي. د نوموړي شعرونه چې په ایرلنډ او نوره نړۍ کې مشهور دي او لوستونکي لري، د ډېرو جایزو ګټونکي شوي دي. په اروپا کې ډېرو ادبي انجمنونو د نوموړي د شعرونو ستاینه کړې او جایزې یې ورکړې دي. هېني یو وخت په خپله یوه وینا کې وویل، له شعر لیکلو خوند اخلي. دی وایي، له شعر لیکلو باید نور کسان هم خوند واخلي، د هغه په خبره، لکه خپل لاسونه همداسې تصور وکړئ او په خپل تصور کې دومره پیاوړي شئ چې ان په نیمه شپه کې لمر پر خپله سینه وګورئ.

دغه نوموتی ایرلنډي شاعر د یوه اثر له چاپېدو وروسته مشهور شو. ده چې کله په ۱۹۶۰ کال کې د «د یوه طبیعت پال مړینه» په نوم کتاب چاپ کړ، نو ورسره جوخت دی هم مشهور شو. د ادبي نقادانو او ادبي برخې د فعالینو پام یې ځان ته راواړاوه. همدې کتاب هېني ته ډېرې جایزې وګټلې. نورې ټولګې یې: د روح درجه، برخه او دایره او نور هغه شعرونه او ټولګې دي چې هېني چاپ کړې او مشهورې شوې دي.

د هېني په ژوند کې مهم کال ۱۹۹۵ و. په همدې کال هېني د نوبل جایزه ګټې. د نوبل کمېټې وویل چې د هېني په شاعرۍ کې ډېر مهم موارد دي چې د بشري فرهنګ لپاره زیاتونه بلل کېږي. په پنځونو کې یې ژوره ښکلا، اسطوروي برخې، لوړول، بیا ځلې روایت، د تېر ژوند معجزه ډوله انځور او نورې ښکلاوې هغه څه دي چې د هېني شاعرۍ او پنځونو ته یې ځانګړنه ورکړې ده. یو کال وروسته تر دې چې د نوبل جایزه یې وګټله، نو د ایرلنډ د سلطني اکاډمۍ د غړي په توګه وټاکل شو. هېني چې د نوبل جایزه وګټله، ایرلنډ ټایمز نشریې یې په اړه ولیکل: د کیسې او بیوګرافۍ په برخه کې که کتابونه ډېر پلورل کېږي، نو دومره غیر عادي خبره نه ده، خو که د شاعرۍ په برخه کې د یو چا کتابونه په زرګونه نسخې پلورل کېږي، نو دا په دې مانا ده چې شعر یې خورا پیاوړی دی او هغه کسان یې سخت تر اغېز لاندې دي چې موږ یې په غلطه عام وګړي بولو. له دې سره دا حقیقت باید هېر نه کړو، چې د هغه د شعرونو محبوبیت یې په خپل کمال کې نغښتی دی. هغه په ډېرو خلاصو سترګو، بهر نړۍ او طبیعت ته کتلي او په وړو دایرو کې یې اصلاً ځان محاصره کړی نه دی.

د نوبل تر ګټلو وروسته یې هم مهمې لاسته راوړنې لرلې. په ۲۰۰۲ کال کې پنسلوانیا افتخاري دوکتورا ورکړه، په ۲۰۰۳ کال کې هودیس پوهنتون افتخاري دوکتورا ورکړه او په همدې کال د ایرلنډ د کویین بلفاست پوهنتون د هغه د فعالیتونو او ادبي لاسته راوړنو په ویاړ د شیموس هېني په نامه د شعر او ادبیاتو یو مرکز جوړ کړ. هېني ډېرې جایزې ګټلې دي، په ۲۰۰۶ کال کې یې یوه اثر د ټي ایس ایلیټ جایزه هم وګټله. د زرین تاج، قلم، ای ام فورستر جایزې یې هم ګټلې دي. دغه پیاوړي شاعر په ۷۱ کلنۍ کې د «انساني سلسلې» په نوم یوه بله ټولګه هم چاپ کړه چې د شعرونو دې ټولګې یې د فوروارډ معتبره جایزه وګټله. نوموړي په ټوله کې انساني ژوند، د میندو او پلرونو تېر او راتلونکې او د ماشومانو، مېرمنو او خاوندانو پر ژوند او راتلونکې خبرې کړې دي.

شیموس هېني تر خپل مرګ وړاندې په ۲۰۱۱ کال کې خپلې ټولې لیکنې چې په خپل لاس یې لیکلې وې، د ایرلنډ ملي کتابتون ته ډالۍ کړې. نوموړي د دې لیکنو د تحویل کولو پر مهال د ټوکې په انداز وویل، ایله په ایله چې په کور کې یې پنځوس کلنه ګډوډۍ پای ته ورسېده. ده زیاته کړه، د دې اثارو په تحویل هېڅ د پښېمانۍ احساس نه کوي، بلکې د غرور او تحسین احساس کوي. ده وویل، دا چې د سترو لیکوالانو د اثارو تر څنګ یې اثار اېښودل کېږي، ده ته ستر ویاړ دی. په پای کې د نړۍ دغه مشهور او پیاوړی لیکوال تر کلونو هڅو او ادبي پنځونو وروسته په ۲۰۱۳ کال کې د اګست په دېرشمه په دوبلین کې ومړ.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۷,۵ |
| € | ۹۲,۸ |
| Rp. | ۴۸۴ |
| ₹ | ۱۰۴۰ |
| ¥ | ۱۱,۲۰ |
| £ | ۱۰۶,۸ |

### بیړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالۍ زیږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیايي مرکز
166

همیانی

# لومړی خپل ځان وپېژنئ!

ژباړه: امان الله حنیفي

زه په دغه مقاله کې د راوړلو شوو مسایلو په اړه ډېر حساس یم؛ ځکه ستاسې په څېر د باهوښه کسانو په څېر زه هم د مسوولیت احساس کوم. ما ۵۰ کاله د دې لپاره کار وکړ چې ژوند مې ښه شي او وشم کولای چې له نورو سره هم یو څه مرسته وکړم. له نورو سره د مرستې کولو په پرتله بل هېڅ شي هم ډېره خوشالي نه ده راکړې. دا خبره درته په صداقت کوم، باور پرې وکړئ. د دې کتاب له لیکلو مې یوازینۍ موخه ستاسې پرمختګ ده، څو وشی کولای له خپلو وړتیاوو په ښه ډول استفاده وکړی.

خو دا پوښتنه لا پر خپل ځای ده چې څه د دې لامل شول چې په دې اړه له تاسې سره په دې مقاله کې دا خبرې وکړم. د دغه مقالې د لیکلو ایډیا مې هغه وخت ذهن ته راغله کله چې د یو ښه کار یاني له خپلو ملګرو سره د ډوډۍ خوړلو او ګف شپ لګولو په حال کې وم. یوه ملګري مې د انسان د بالقوه وړتیاوو او دا چې څنګه کولای شي هغه ته لار ومومي، خبرې پیل کړې. دا وخت مې له ملګرو سره د دې موضوع په اړه څه کم دوه ساعته خبرې وکړې. هماغه وو چې د دوی له مجلس ګوښه او د میز پر سر اېښې کمپیوټر ته کېناستم. یوه ملګري مې راته وویل: ما تر اوسه خپلو بالقوه وړتیاوو ته د رسېدو او د هغه د پېژندلو په اړه کوم کتاب نه دی لوستی.

دې خبرې ما ته هغه ایډیا راکړه چې دوه کاله مې یې ذهن مصروف ساتلی و. دا چې د انسانانو د وړتیا او ظرفیت موضوع مې څو ځله په ذهن کې تاو راتاو کړه، نو هماغه وو چې په دې هکله مې له خلکو پوښتنې پیل کړې او د هغوی خبرې مې په ډېرې ارامۍ سره واورېدې. ربښتیا چې له دې لارې مې ډېر څه زده کړل. بالاخره هماغه وو چې د وړتیاوو ننګولو موضوع مې په ذهن کې پخه شوه.

**د وړتیاوو ننګونه**

کله چې په ښه ډول اګاهي تر لاسه کړی، خپلې وړتیاوې لا پیاوړې کولای شی او په ښه ډول انتخابونه کوی، کولای شی خپلو بالقوه وړتیاوو ته لار پیدا کړی.

همدا ننګونه ده چې په دې مقاله کې تاسې ته پرې لږ څه رڼا اچوم. که غواړی چې یوې پایلې ته ورسېږی، هغه مرحلې تعقیب کړئ چې زه یې تاسې ته ښیم.

د خپلو وړتیاوو د ننګونو لومړۍ مرحله په ښه ډول د ځان پېژندنه ده. په ښه ډول د ځان پېژندل هغه لومړی ګام دی چې زه یې خپلو وړتیاوو ته په کمه سترګه له کتلو راګرځولی یم او له نیکه مرغه دې کار مې په شخصي ژوند کې ډېر ژر خپل اغېز ښکاره کړ. هغه وخت مې یو روحاني لارښوود هم درلود، د هغه دنده د مېرو پوول او د هغه ساتنه وه. دا ډېر مهم مسوولیت او ما هم وپتېیله چې باید هغه زده کړم یاني وکولای شم چې یوه ډله شاروي په ښه ډول رهبري کړم. خو هغه وخت مې د المر تاونز (هغه امریکایي کلیساوې چې چټک پرمختګ یې کړی) کتاب مطالعه کړ. د کتاب موخه له ډېرو کسانو سره د اړیکو ټینګول او په ښه ډول د یوې کلیسا رهبري وه. دا کتاب او پکې راغلې کیسې دومره په زړه پورې او خوږې وې چې د اېښودلو هېڅ موقع یې نه راکوله. بالاخره د دغه کتاب له لوستلو وروسته اړ شوم چې د هرې کلیسا له روحاني مشر سره وګورم او په دې اړه ورسره ښې ډېرې خبرې وکړم. خو څنګه مې دا کار کولای شوی؟ هغوی یوه هم زه نه پېژندم او دا چې هغوی به له ما سره خبرو کولو ته وخت ورکړی وي او که نه، دا چانس هم ډېر کم و. دا وخت مې ذهن ته یوه نوې ایډیا راغله. له هغوی سره د خبرو کولو لپاره مې هغوی ته ټلیفون وکړ او د ۳۰ دقیقو لپاره مې ۱۰۰ ډالر ولګول. دا کال مې له هغوی سره د ټلیفوني اړیکې په ټینګولو ۴۲۰۰ ډالر ولګول. د دې لپاره چې یوه شم څه د هغوی د پرمختګ لامل شوي، ډېرې سختې مې وګاللې؛ خو بیا مې هم یوه ښه پایله په لاس رانه وړه. کله چې له هغوی دوو کسانو د خپلې بریا د راز په اړه زما پوښتنې مثبت ځواب راکړ، که ربښتیا درته ووایم هغه وخت په کالیو کې نه ځایېدم.

کله چې هغوی زما بلنه ومنله، ژر مې د هغو پوښتنو په لیکلو شروع وکړه چې باید له هغوی مې پوښتلې وی. پوښتنې مې بیخې ډېر وې، دومره ډېرې چې پنځه پاڼې مې پرې ډکې کړې. له هغوی سره د مخ کېدو پر مهال مې ډېره هڅه دا کوله چې باید ټولې پوښتنې ترې وپوښتم. خو ومې نه شوای کولای چې ټولو پوښتنو ته ترې ځواب پیدا کړم، هغه چې راته یې ځواب کړې وې، ربښتیا چې زما په ژوند کې یې یو نوی بدلون رامنځ ته کړ. یو لوی کشف چې راته وشو هغه دا و چې دې روحانیونو هېڅ وخت له خلکو سره موعظه نه وه کړې، بلکې ټول وخت یې د هغوی اصلاح او تجهیز ته ځانګړی کړی و.

لومړی مې د دې کار منظور نه شوای درک کولی او مجبور وم چې په دې اړه له هغوی بیا بیا وپوښتم. خو وروسته بیا پوه شوم چې موعظه له خلکو سره د هغوی د کمزورو وړتیاوو په پیاوړي کولو کې مرسته کوي. ولې اصلاح او تجهیز بیا هغوی اړ باسي څو د خپلو بالقوه وړتیاوو پر را ژوندي کولو باندې کار وکړي. وروسته یې په ترتیب سره راته واضح کړه چې کله خلک پر خپلو پیاوړو نقطو متمرکز شي، هغه ده چې بیا په اسانۍ سره کولای شي له خپلو بالقوه وړتیاوو په اسانۍ سره استفاده وکړي. داسې چې پر کمزورو ټکو د تمرکز په وخت کې بیا داسې پرمختګ نه شي کولای. دا روحانیون په اصل کې د هغو شپنو په څېر نه وو چې دنده یې یوازې د مېږو پوول ده؛ بلکې هغوی رهبران او سمه لارښودونکي وو. هغوی په پوره ډول انسان پېژندلی و، داسې چې ویل یې د انسان پر مخ د پرمختګ هېڅ محدودیت نشته. هغوی خلک دې رته رابلل څو د هغه په نسبت چې دوی یې په اړه فکر کوي، لوی لوی کارونه وکړي او د هغه موقف په پرتله چې دوی یې په ټولنه کې لري، ځان لوړ موقف ته ورسوي. هماغه وو چې دوی د یو او بل په مرسته کلیسا پر خپلو پښو درولې وه او ډېر خلک یې تر اغېز لاندې وو.

هماغه ورځ پوه شوم چې په هره برخه کې د لازمي اګاهۍ درلودل له انسانانو سره څومره د خپلو بالقوه وړتیاوو په پیدا کولو کې مرسته کولای شي. یوازې هغه لار چې له مخې مې یې کولای شوی د نورو کسانو یوڅه یاري او مرسته وکړم، دا وه چې هغوی د کمزور نقطو پر ځای د خپلو پیاوړو نقطو پر لا پیاوړي کولو متمرکز وساتم. په دې اړه د ښې اګاهۍ له تر لاسه کولو وروسته پوه شوم چې زه یو ښه انګېزه ورکوونکی کس یم. له هغه وروسته مې ځان او مسوولیت په بله ښه لیدل. زه له دې وروسته هغه رهبر شوم چې نړدې د ټولې کلیسا مشري مې کوله.

کلونه کلونه مې په سیمنارونو او کنفرانسونو کې د دې کال کیسه خلکو ته کوله او ډېری وخت به خلکو نه راپوښتل: له هغو دوو رهبرانو سره تر خبرو وروسته هغه مهم څه وو چې له دوی دې زده کړل؟

ما به ځواب ورکاوه: «اګاهي» هر وخت به مې له ځان سره په دې اړه فکر کاوه، که مې له هغو دوو رهبرانو سره خبرې نه وی کړې، تر کومه به مې خلکو ته د الهام او انګېزې پر ځای موعظه ورکوله. نن ورځ په دې پوه شوی یم چې له موږ هر یو د بل کس مرستې او هڅونې ته اړتیا لرو، څو وشو کولای ورځ تر بلې پرمختګ وکړو او خپلې پیاوړې نقطې وپېژنو.

زموږ هدف هم دا دی چې له هرڅه مخکې په ښه ډول ځان وپېژنئ او د هغه کار او دندې په اړه چې تاسې یې کوی، پوره اګاهي تر لاسه کړئ. کېدای شي دا خبره تاسې هم اورېدلې وي چې وایي: «که هر وخت هغه کار تر سره کړی چې هره ورځ یې کوی، هماغه پایله به لاسته راوړی چې هره ورځ مو درلوده.» زه غواړم تاسې ته په دې اړه جرئت او ډاډ درکړم چې تاسې کولای شی نوي کارونه تر سره کړی او نوې پایلې لاسته راوړی؛ خو هغه وخت دا هرڅه ممکن دي چې تر هرڅه مخکې خپل ځان وپېژنئ.

ځان وپېژنئ، چې نړۍ مو وپېژني!!

## مک کنزي: که امریکایي ځواکونه له افغانستانه ووځي، ګډوډۍ به زیاتې او جګړه به شدیده شي

د امریکا پوځ د مرکزي قوماندانۍ قوماندان جنرال فرانک مک کنزي وایي، که امریکایي ځواکونه له افغانستانه ووځي، ګډوډۍ به زیاتې او جګړه به شدیده شي.

نوموړي له لاس انجلس ټایمز سره په یوې تازه مرکه کې ویلي، که امریکایي ځواکونه د ټرمپ او طالبانو ترمنځ د شوې هوکړې پر بنسټ په مې میاشت کې له افغانستان څخه ووځي، طالبان به په ګډوډیو لاس پورې کړي او افغان حکومت به په خپلو سیمو د واک ساتلو لپاره له طالبانو سره په یوه سخته جګړه کې ښکېل شي.

مک کنزي دغه مرکه او خبرې له ولسمشر غني سره تر لیدنې او خبرو وروسته کړې، چې ارګ یې هم په اړه په یوې اعلامیه کې ویلي، دا خبرې تر ډېره د سولې، امنیتي وضعیت او افغان ځواکونو د ملاتړ په اړه وې.

خو د افغانستان ملي امنیت شورا بیا دغه څرګندونو ته په ځواب کې وایي، د دوحې له تړون وروسته یوازې د بهرنیانو سرونه خوندي دي او افغانان لا هم وژل کېږي. د دې شورا ویاند رحمت‌الله اندړ ویلي: «په دوحه کې د امریکایانو او طالبانو له هوکړې وروسته د بهرنیانو سرونه خوندي دي، خو لا هم په جګړه کې افغانان وژل کېږي، که بهرنیان ووځي یا ونه‌وځي، د جګړې د مهارولو او په نظام کې د سیاسي مشارکت لپاره یوازینۍ حللاره اوربند او سوله ده، چې د مذاکراتو له لارې راتلی شي.»

فرانک مک کنزي دغه راز ویلي چې د امریکایي ځواکونو وتل کولای شي لویو ښارونو ته د طالبانو ګواښونه زیات کړي. په ورته وخت کې د افغانستان لپاره د کاناډا پخواني استازي کرس الکساندر له انډیا ټوډې ټلوېزیون سره په مرکه کې ویلي، چې طالبان د زور له لارې واک ته نه شي رسېدلی. د ده په خبره، دغه ډله باید راشي او له افغان حکومت سره په ګډه د سولې لپاره کار وکړي. الکساندر زیاته کړې: «موږ ټول باید کار وکړو چې طالبان خپل کور (افغانستان) ته راشي او له افغانانو سره د سولې په خبرو کې باید ښکارنده ونډه واخلي او دوی باید خپل ژوند ته راوګرځي.»

دې ټولو څرګندونو ته په ځواب کې بیا طالبان وایي چې دوی د جګړې پر ځای خبرو ته لومړیتوب ورکړی دی. د طالبانو ویاند ذبیح‌الله مجاهد وایي، که د خبرو لاره له ستونزو سره مخ کېږي، افغانان بیا د خپل هېواد ساتنه له نظامي لارې هم کولای شي. د ده په خبره، بهرنیان یوازې د خپلو سرتېرو د ایستلو مسوولیت لري، نه دا چې د هېواد په دننه مسایلو کې لاسوهنه وکړي.

## راپورونه: په کندهار کې د وروستیو جګړو له کبله ۱۸ زره کورنۍ بې ځایه شوې دي

په تېرو درېو میاشتو کې په کندهار او جنوبي ولایتونو کې د جګړو او نښتو له کبله ۱۸ زره کورنۍ بې‌ځایه شوې دي. دغه کورنۍ چې په سخت حالت کې ژوند کوي، د سرپناه په ګډون لومړنیو مرستو ته اړتیا لري.

د کندهار د کډوالو ریاست مخې ته لسګونو کسان چې ډېری یې مېرمنې دي، د مرستې لپاره په تمه هغه کورنۍ دي چې د وروستیو جګړو له امله د کندهار د یو شمېر ولسوالیو او دغه‌راز د ګاونډیو ولایتونو ارزګان او هلمند څخه راکډه شوې دي.

د هلمند له نادعلي څخه د جګړو له وېرې کندهار ته راغلې یوه کورنۍ چې ۱۲ غړي لري او د سړک پر غاړه‌یې اړولي، د خوراک لپاره وچه ډوډۍ په جوماتونو کې ټولوي.

دوی وایي: «له هلمند څخه راغلي یو، دلته جګړو پسې راخیستي یو، دغسې در په دره ټوکر ټوکر خلک یو، پر دغه وچه ځمکه ناست یو.»

په ورته مهال د کندهار د کډوالو چارو ریاست وایي، چې په تېرو درېو میاشتو کې کندهار ښار ته د شاوخوا ولسوالیو او جنوبي ولایتونو څخه شاوخوا اووه نیم زره کورنۍ د جګړې له امله را بې‌ځایه شوې دي. د دغه ریاست د معلوماتو په اساس، لس نیم زره نورې کورنۍ بیا د ولسوالیو امن سیمو ته له خپلو مېنو بې‌ځایه شوې دي. د کندهار د کډوالو چارو رییس دوست محمد نایاب وایي چې له دې ډلې له دوه زره او درې سوه کورنیو سره د خوراکي، غیر خوراکي توکو او د نغدي پیسو مرستې شوې.

نایاب وایي: «د تېرو درېو میاشتو په ترڅ کې د کندهار ولایت ډنډ، ارغنداب، پنجوایي، ژړۍ، میوند، ارغستان، شاه ولي کوټ ولسوالۍ همدا‌راز د روزګان او هلمند ولایتونو څخه شاوخوا ۷،۵۰۰ دلته د کندهار ولایت مختلفو ناحیو ته رابې‌ځایه شوي چې د دې جملې څخه شاوخوا ۲،۲۹۷ کورنیو ته د کندهار د کډوالو چارو ریاست اداري په همکارۍ مرستې رسېدلې چې په دې کې غذایي، غیر غذایي مواد او نغدي مرستې شاملې دي.»

مسیر ورځپاڼه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**ایډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲۶۲۶
۰۷۸۲۹۸۹۶۹۶
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایگل چاپ کې تجربه کړئ!
WAYGAL PRINTING CO
if You Can Think it, we Can ink it.
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
waygalprinting.co
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co@gmail.com

سه شنبه د ۱۳۹۹ د کب ۲٦مه | د ۲۰۲۱ د مارچ ۱٦مه | ٦۹۷یمه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱۷ | ۲۱ | ۱۸ | ۱٤ | ۲٦ | ۱٤ |
| ٥ | ۷ | ۹ | ۷ | ۱٤ | ٦ |

شرعي وختونه: سهار ۰٤:٤۰ | لمر ختل ۰٦:۰٤ | ماسپښین ۱۲:۰۳ | مازیګر ۰٤:۱۹ | ماښام ۰٦:۰۲ | ماخوستن ۰۷:۲۱

## نړۍ



راپورونه: په میانمار کې د حکومتي ځواکونو په ډزو کې ۴۰ لاریونوال وژل شوي دي

۳

### چارواکي: د یمن حکومتي ځواکونو تر سختو جګړو وروسته له حوثیانو ګڼې سیمې نیولي



د یمن حکومتي چارواکي وایي چې ځواکونه یې توانېدلي چې په تېرو څو ورځو کې له حوثي یاغیانو زیاتې سیمې بېرته ونیسي، خو د حوثي یاغیانو چارواکو دا خبرونه رد کړي دي. اسوشیټېډ پرېس خبري اژانس د یمن د حکومت د ځینو چارواکو په حواله راپور ورکړی، چې ویلي یې دي: «دولتي ځواکونو د دې میلادي میاشتو په لومړیو کې په غربي ولایت حجه کې د حوثي یاغیانو پر سنګرونو حملې پیل کړې او په ابس سیمه کې یې تر ۱۰ زیات کلي ونیول.» دغه پوځي عملیات د حدیده اصلي بندر پر لوري د حرکت یوه برخه ده، چې یمن ته ۷۰ سلنه تجارتي واردات او بشري مرستې له همدې لارې رسول کېږي. په همدې حال کې د خوړو نړیوال پروګرام اجرایه رییس ډېوېډ بیسلي د ملګرو ملتونو په یوه انلاین جلسه کې په یمن کې د بشري ناورین په اړه خبرداری ورکړی دی. بیسلي ویلي: «په یمن کې وضعیت غمونکی او دا په نړۍ کې تر ټولو بد بشري بحران دی. په دغه هېواد کې ۱٦ ملیونه وګړي په واقعي مانا په اضطراري او بحراني حالت کې دي، پنځه میلیونه نور خلک واقعاً له قحطۍ سره مخ دي.» د یمن حکومت چارواکو ویلي چې د تعز ولایت په مقبنه غرنۍ سیمه کې هم وسله‌والي نښتې رواني دي. د رویټرز خبري اژانس په حواله، حوثي یاغیانو په تعز ولایت کې پر یوه ښوونځي چې دولت پلوه ځواکونه پکې ځای پر ځای شوي وو، توغندي ویشتلي چې ۱۵ سرتېري پکې وژل شوي دي.

### تازه شمېرې:
## په امریکا کې د کرونا د مړو شمېر ۵۴۷ زره او ۳۰۰ کسانو ته ورسېد

د تازه شمېرو له مخې، په نړۍ کې پر کرونا ویروس د اخته کسانو شمېر ۱۲۰ میلیونه او ۵۵۳ زره او ۱۳۰ کسانو ته رسېدلی دی. دغه راز د یاد ویروس له کبله تر دې مهاله دوه میلیونه او ٦٦۷ زره او ۲۵۵ کسان مړه شوي او له ۹۷ میلیونو ډېر ترې بېرته رغېدلي دي.

د یادو شمېرو له مخې، د امریکا متحده ایالتونه د دغه ویروس د ډېرو مثبتو پېښو او قربانیانو له اړخه د نړۍ تر ټولو مخکښ هېواد دی. د راپورونو پر بنسټ، په امریکا کې د دغه ویروس مثبتې پېښې ۳۰ میلیونه او ۸۴ زره او ۹۲۵ ته رسېدلي او ۵۴۷ زره او ۳۰۰ نور امریکایان ترې مړه شوي دي.

دغه راز برازیل د ۱۱ میلیونه او ۴۸۳ زره او ۳۷۰ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ دویم، هند د ۱۱ میلیونه او ۴۰۴ زره او ۲۷۹ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ دریم، روسیه د څلور میلیونه او څلور سوه زره او ۴۵ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ څلورم او برېټانیا د څلور میلیونه او ۲۵۸ زره او ۴۳۸ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ پنځم هغه هېواد دی چې د کرونا ویروس ډېرې پېښې پکې ثبت شوې دي.

فرانسه، ایټالیا، هسپانیا، ترکیه او جرمني بیا په ترتیب سره شپږم، اووم، اتم، نهم او لسم هغه هېوادونه دي چې د کرونا له کبله ډېر ځپل شوي دي.

### شورای انسجام امور ترانسپورت:
## اخاذی‌ها در مسیر شاهراه‌ها بیشتر شده‌اند




تصویرهای که از سوی راننده‌گان موترهای باربری در رسانه‌های اجتماعی دست به‌دست می‌شوند، نشان می‌دهند که افراد تفنگدار با زور تفنگ از راننده‌گان موترهای باربری، پول می‌گیرند. مسؤلان شورای انسجام امور ترانسپورت زمینی می‌گویند که اخاذی‌ها در مسیر شاهراه‌ها بیشتر شده‌اند و در۱۵ روز اخیر شماری زیادی از راننده‌گان در مسیر شاهراه‌ها، لت‌وکوب و حتا از سوی افراد گونه‌گون و پاسگاه‌ها، مورد هدف قرار گرفته‌اند. محمدنبی افغان، معاون شورای انسجام امور ترانسپورت زمینی می‌گوید: «اکثریت افرادی که اخاذی می‌کنند، پولیس هستند. ۱۰ الی ۲۰ فیصد شان افراد نیروهای خیزش مردمی هستند.» او می‌افزاید: «در حوادثی ناشی از اخاذی‌ها، ۲ راننده و ۲ کلینر موترهای باربری شهید و شماری هم زخمی شده‌اند.» در یکی از تصویرهای پخش شده از سوی یکی از این راننده‌گان دیده می‌شود که فردی با لباس نظامی از یک راننده موتر باربری پول اخذ می‌کند اما؛ طارق آرین، سخنگوی وزارت امور داخله می‌گوید که این افراد نیروهای پولیس نیستند.

از سویی هم، شماری از راننده‌گان موترهای باربری ادعا دارند با آنکه در حال حاضر روند گردآوری درآمدهای وزارت ترانسپورت در مسیر شاهراه‌ها متوقف است، اما؛ اکنون هم به همین بهانه از آنان پول گردآوری می‌شود.

اما حکمت‌الله قوانچ، سخنگوی وزارت ترانسپورت در این باره می‌گوید: «در هیچ نکته افغانستان در مسیرهای میان ولایت‌ها، مأموران وزارت ترانسپورت از وسایط ترانسپورتی باربری داخلی هیچ نوع کمیشن اخذ نمی کنند. اگر مواردی و اسنادی وجود داشته باشند، رهبری وزارت ترانسپورت مصمم است که در برابر آن، اقدام قانونی کند.»

## ژوند

### د ون‌پلس۹ د معرفي کولو نېټه اعلان شوه



ون‌پلس کمپنۍ د ون‌پلس لړۍ نوي ځیرک موبایل د معرفي کېدو نېټې په اړه معلومات ورکړل. دغه ځیرک موبایل چې ون‌پلس۹ نومول شوی دی، د مارچ په ۲۳مه به کاروونکو ته معرفي شي. ون‌پلس کمپنۍ په رسمي ډول دغه نېټه تاییده کړې او دغه غونډه به د افغانستان په وخت ماښام ٦:۳۰ بجې پیل شي. ون‌پلس کمپنۍ په دې غونډه کې د ون‌پلس۹ درې ځیرک موبایلونه چې ون‌پلس۹، ون‌پلس۹ پرو او ون‌پلس۹ ار نومول شوي دي، کاروونکو ته معرفي کړي. ون‌پلس۹ ار به منځنۍ وړتیا لرونکی ځیرک موبایل وي او ۸ ګېګابایټ رم او ۵۰۰۰ ملي امپیره وړتیا لرونکې بېټرۍ سره به خرڅلاو ته وړاندې شي. ون‌پلس۹ او ون‌پلس۹ پرو به ۱۲۰ هرتز ریفرش رېټ او د کوالکام کمپنۍ سنپ ډراګن۸۸۸ ډوله پیاوړی پروسېسر ولري. دې غونډه کې به ون‌پلس کمپنۍ خپل یو ځیرک ساعت هم معرفي کړي.

### ایا د وینې لوړ فشار ناروغي ارثي ده؟



څېړنو ثابته کړې، که د چا مور او پلار او یا یو هم له دوی څخه له ۵۵ کلنۍ وړاندې د وینې لوړ فشار ولري، ښایي اولادونه یې هم د وینې لوړ فشار ولري. خو دا څېړنه په حقیقت کې یوه نوې لاسته راوړنه ده، چې پکې د ماشومتوب د دورې خپګان او سټرېس وروسته د وینې د لوړ فشار لامل کېږي. په امریکا کې په یوه نوې څېړنه کې موندل شوي، هغه ماشومان چې په کوچنیوالي کې له روحي فشار، خپګان او سټرېس سره مخ شي، وروسته د وینې د لوړ فشار پر ناروغۍ اخته کېږي. څېړنه دا هم وایي، هغه کسان چې مور او پلار یې د وینې لوړ فشار ونه لري، بیا هم ٦ سلنه احتمال شته چې د وینې پر لوړ فشار اخته شي، خو که (مور او پلار) دواړه د وینې فشار ولري، ۱۹ سلنه احتمال شته چې اولادونه یې د وینې لوړ فشار ولري.

STUDENT'S
ACCOUNT



د زده کونکو/زده کړیالانو جاري حساب

عزیزي بانک خوښ دی چې خپل ځانګړی محصول "د زده کونکو جاري حساب" په لاره اچولی چې د افغانستان د زده کونکو لپاره ځانګړې ډالۍ ګڼل کېږي. نوموړی حساب زده کونکو/زده کړیالانو ته د وړیا ای تي ام کارت او په کلنۍ فیس کې د ماستر ډېبټ کارت تخفیف سره چمتو شوی دی.

www.azizibank.af 1515

عزیزی بانک
Azizi Bank